محمد اسحاق برکت
ویرجینیا ـ امـریکا
۸ / ۲ / ۲۰۰۹


# لــــنــــدی ـ ۵

مــازدیــګر چېر ته بیا مېلمـه شـوې
خوَرې وَرې زلفې په بام ولاړه ومه

پـه زړه مـې ځا ی د ګیلو نـه شتـه
کله به وایم چې د سرپه سنګرړدمه

پـه کـټ کې څملـم خـوب مـې نــه وي
یاره خوب نه شته دی که ماله نه راځینه

پـــه ګـــودرنښــه راتــه کــــــېږده
چې مازدیګراوبوله ځم وا به یې خلمه

جا نــان مـــې ګـــل د بیـا بـــا ن و
لکه شبنم پرې اورېدم تازه مې کړنه

جا نا نـه بـد را ســـره مـــه کـــړه
ما تا تـه بد ونه ګېډی جوړ کړېد ینـه

جا نـــا نـــه تـا نـــه مـــې ګیـلـه ده
چې نا امیده مې پرې نبږدې له د ید نه

جا نان مې ګل غم بـــې اغـزی دی
داخوعادت ګلان اغزیو سره وینه

پـه مـرګ بــه دوارہ ســره نـــه يـو
ارمان ارمان د ژوندانه سخته بېلتونه

دا سپـيـــــنـه تــنــــډه مــي غــنډی ده
داتورې زلفې مې رمې ترې پنډې دينه

دا سپــېلنــي راتــه لــوګـــي کــړئ
دخپـلـي مخ نــه لـوپټه لــرې کومه

د د يــدن تــېـرې بـــه مـــاړه کــــــړم
د کلي منځ کې که مخ لوڅ کړمه بېګمه

د ريــدي ګل به تــرېنه جــوړ شي
که مي په لنډه زنه کېښودل خالونه

خـــال مي دا نـــه زلفــي مــــي لــومــي
چې را نيږدي نه شي بندي به شي مينه

تر راتلونکی لنډيو مو بيا په لوی او ښنونکي خدای سپارم. په درناوي